# د شیدا په شاعرۍ کښې د روه او د روه د سیمو یادونه

# "Roh" in Shaida Poetry

Muhammad Sadiq Zharak*

**ABSTRACT:**

Kazim Khan Shaida was a great Pashto classical poet. His poetry has a distinguished feature among other classical Pashto poets. He also construct and compose the national theme in his poetry. Especially he repeatedly called his homeland under the name of Roh.
Aestheticism is an other major theme in his poetry. He compare life with bubble. In his poetic art form and content exist in an ideal harmony.

د خټکو په کورنۍ کښې کاظم خان شیدا هغه شاعر دے چې د پښتو کلاسیکه دوره د دۀ په اشعارو رنګینه او ګلورینه ده. کاظم خان شیدا په پښتو کلاسیکو شاعرانو کښې زما له پاره ځکه په زړۀ پورې دے چې ما د نومورې دیوان تر پنځۀ شپږ واره زیات لوستلے دے او هر ځل مې بېل بېل خوند ترې اخیستے دے او هر ځل چې مې ئې دیوان لوستل به پاے ته ورسول نو به په همدغه وخت بیا دا تلوسه راسره پیدا شوه چې کاش یو ځل مې بیا لوستے واے، خو ما چې هر وارې د ده دیوان لوسته نو په هغه کښې به یو شیز په وار وار مخ ته راتله، هغه دا چې د دۀ په شاعرۍ کښې د وطن مینه Nostalgia او د وطن یادونه وه. د نومورې په شاعرۍ کښې د روه یادونه په وار وار راغلې ده او له دې پرته د

---

* Ph.D Scholor Pashto Academy University of Peshawar

روه نورې سيمې هم په وار وار يادې کړې دي چې له هغه څخه جوتېږي چې شېدا له خپل وطن سره څومره مېنه لرله. د دې به لويه وجه دا وي چې شېدا له وطن څخه ليرې په هند کښې ډېره موده پاته شوے دے، نو په داسې حالاتو کښې چې يو څوک له وطن څخه ليرې وي نو له وطن سره مېنه او د وطن يادونه به ئې ارو مرو کوله. د روه په باب ډېر زيات معلومات مونږ په پښتو ادب کښې وينو خو لومړے به پښتو قاموس ته ځير شو چې د روه څنګه تشريح کوي په قاموس کښې د روه معنا داسې راغلې ده:

"روه: د پښتنو د وطن پخوانۍ نامه، د پښتنو وطن، هغه علاقه چې پښتانۀ پرې مېشته دي، پښتونخوا، د پښتنو د استوګنې علاقې، مجازاً غرئيزه علاقه.[١]"

ارواښاد علامه عبدالحئ حبيبي د روه په باب څۀ داسې کښلي:

د بابر د کورنۍ په عصر کښې چې هندي مؤرخين راغلي دي، دوئ د پښتنو مسکن روه او دوئ ئې روهيله بلله.[٢]

په ۲۰۱۲م کال کښې د پښتو اکېډمۍ پېښور له خوا پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک د روهالوجي په نوم يو کتاب د ايم فل او پي ايچ ډي د کورس له پاره ليکښې او چاپ کړې دي. په دې باب ښاغلي راج ولي شاه خټک داسې کاږي:

روهالوجي د پښتو، پښتانۀ او پښتونخوا په باب د علم او پوهې د مضمون نوم دے، دا علمي اصطلاح د روه د نوم په مناسبت وضع کړې شوې ده، روه د پښتونخوا زوړ نوم دے او يوه جغرافيايي اکايي يوه سيمه چې د مېنځنۍ سويلي اسيا د دوو لويو سيندونو آمو درياب او اباسين تر مېان پرته ده.[٣]

له کاظم خان شېدا څخه پرته په کلاسيکو شاعرانو کښې روه ډېرو شاعرانو ياده کړې ده، خو زه به دلته يوازې د اشرف خان هجري څو بيتونه راوړم چې روه ئې پکښې ياده کړې ده:

يــو نــاوک مــې پــه دل لکــه راوړه پــه روه
ځــار و چــار مــې د بــاغ ونــه کــړه خطــا شــوم[۴]

قاصــدان لــه روه نــه راځــي مــدت شــه
ســلام بــاد رارســوي منــت ئــې تــم دے[۵]

اشرف خان هجري په خپلو ډېرو غزلونو کښې تخلص روهي راوړے دے، لکه:

پـه وصـال يـه د روهـي خـاطر قـرار شـي
بېلتانـهٔ پـه زړهٔ ويشـتلے دے غوغـا کـا[۶]

پـه تـاثير ئـې د نظـر روهـي حېـران دے
چې بې اوره صـورت څرنګـه جليـا کـا[۷]

جو دانه صبر مې کله دے په زړهٔ کښې
زهٔ روهــي د يــار پــه مــخ پســې تــالا يــم[۸]

ستر خوشال خان خټک وايي:

د وطــــن مېنــــه اے جانــــه!
راپېـــدا ده لــــه ايمانــــه[۹]

د عربي ژبي مقوله ده چې: الحب الوطني من الايمان ژباړه: د وطن مېنه له ايمان څخه ده.

کاظم خان شېدا د خوشال بابا دغه شعر کټ مټ د د پښتو د شعر حسب حال کښې يو ځاے رانقل کوي:

د وطـــــن مېنـــــه اے جانـــــه!
راپېـــــدا ده لـــــه ایمانـــــه [۱۰]

هندي حسن چې کله کاظم خان شېدا متاثره کوي نو بیا د پښتو بلبل شاعر شېدا پته خولهٔ نهٔ پاته کېږي، په دې باب علامه حبیبي صاحب کاږي:

شېدا چې کله د هندي پېغلو په ناز او ادا مسحور کېږي نو بیا چونکي شیدا یو نازک خیاله شاعر دے او هم د شېدا په څېر نازک خیاله شاعر چې په ډېر څهٔ پوهیږي خو دلته دے ځان یو ساده پښتون ګڼي او خپله پښتني ساده روحیه داسي بیانوي:

پـه هنـدي ادا ئـې وکـړې پـه مـا چـارې
زهٔ شـېدا پـه زړهٔ سـاده د روه افغـان یـم [۱۱]

حبیبي صاحب بل ځاے کاږي:

بیا چې د هند د سبزانو په پانو سرې شونډې ووینې د وطن د غرونو د زرکو په یاد کښې وایي:

چـــې د هنـــد ســبزو خـــوړلے پـــان وي
لعـــل و یـــا قوتـــت ئـــې دواړه لبـــان وي
زرکښـــې چـــې ګـــرزي د روه پـــه غرونـــو
ښائســـته روغـــي پـــه دغـــه شـــان وي [۱۲]

زما سکالو د روه په باب ده نو کاظم خان شېدا پخپله شاعري کښې روه او د روه د سیمو یادونه ځو ځو ځایه کړې او د روه هوا ، مرغـان، سیمې، غمې او کـانې ئې ستایلي دي او روهي حسن ئې تر هندي حسن زیات ستایلے او غوره ګڼلے دے. شېدا هسي نه چې د روهي حسن په باب د نرګسیت ښکار شوے دے، بلکې که چېرې د نورو خلکو سیمو خلک روه ته راشي روهي حسن او هندي حسن سره پرتله کړې نو تر هندي راڼیو به هم د روه د غریبو خلکو حسن وستایي، ځکه شېدا دې وئیلو ته اړ شوے دے:

په کښې نسته سینه مست د هغه سترګو
ګرځېدلے په درست هند په بنګاله یم[۱۳]

اوس به زۀ دلته څو شعرونو د کاظم خان شېدا وړاندي کړم چې روه او د روه د سیمو یادونه ئې پکښې کړې ده.

د روه یادونه:

زلزلـــه شــوه پـــه درســـت روه کښـــې
دبدبـــه پـــه هـــره ګـــروه کښـــې[۱۴]

شـــېدا واســـتوه دیـــوان لـــه هنـــده روه تـــه
چې لبریـز ئـې پـه صـدا شـي کوهسـتان هـم[۱۵]

هرګــز نــه کــا انتفــاع پــه هندوســتان کښــې
پـــه غـــوز دي ســـرو د روه ســـراب
د پـــومبې پـــه شـــان بـــه اوربـــل شـــي پـــه واورو
کـــه ئـــې ورشـــي پـــه کابـــل ســـو ځنـــده تـــاب
تـــل د روه آب و هـــوا واوري ســـپین یـــخ هـــم
بـــاغ و راغ دشـــت و کهســـار طـــرف شـــاداب[۱۶]

غـــره بـــې ځایـــه د هنـــد ســـبزاني دي
غـــنج و ادا لـــري کـــه د لســـاني دي
چـــې دلبـــري کـــا بـــې تکلفـــه
د روه پـــه مـــخ کښـــې ســـاده خوبـــاني دي[۱۷]

لکه وړاندي چي مي ووئیل چي شېدا پخپله شاعري کښي د روه، د روه د سیمو، مرغانو، واورو، غمېو، غوښو او نور څیزونو یادونه او ستاینه کړي ده، اوس په دي اړه هغه شعرونه پخپل خپل وار سره وړاندي کړم:

د کابل او کندهار یادونه:

طاوس تخت ئي په شان د ښي واخیست
بیا ئي تېر کړ تر کابل و قندهار
لکه نمر په ګرم روے کړه جهان لاندي
نه یو هند و خراسان روه و تاتار[18]

د بدخشان یادونه:

چي یاقوت ئي هر خارا دے
بدخشان او بخارا دے[19]

دواړه کسي ئي په رنګ لعل و یاقوت کړه
لکه غر د بدخشان ژاړه په وینو[20]

که ئي وکاندي جلوه په ګرد د لعل
کښلے مخ به ئي سواد د بدخشان شي[21]

له قطري به ئي هرګز برابر نه شي
چي په وینو کا ژړا د بدخشان غر
سختي کله د عالم په اضطراب شي
ولي کاندي دم په دم ناله افغان هم[22]

دا قطعه ده ګل افشانه

رنګينـــــه تــــر بدخشــــانه [۲۳]
وايـــي خـــس و کهکشـــان تـــه

ســـنګ و لعـــل و بدخشـــان تـــه [۲۴]
ســـرونه هـــس کـــا لاتـــدي دي ګـــوري

لعـــل و يـــاقوت دي پراتـــه پـــه کـــان کښـــې [۲۵]

د يادوني وړ ده چې د شيدا په وخت کښې بدخشان لا تقسيم شوے نه وو، د بدخشان يوه لويه برخه روسانو ونيوله او کله چې بيا لېنن په روس کښې انقلاب وکړ هغه پر ځاے د دې چې د لوے بدخشان دغه برخه ئې افغانستان ته بېرته ورکړې وے بلکې هغه ئې د خپل هېواد رسمي رياست وګرځاوه د افغانستان ځنې سيمې لومړے روسانو قبضه کړې بيا ئې څۀ برخه لکه سيستان پارس (ايران) لاندې کړه داسې د پښتنو د وطن پرله پاسې ماتېدل له زمانې راشروع دي۔ اجمل خټک څۀ ښۀ ويلي دي:

چې نشه د استبداد لري په سرکې
ماته يو دے که مغل دے که افغان

د بلخ او کندوز يادونه:

زر بـــه رســـوا شـــي د مضـــمون د زده
جامــــه غمــــازه د جامـــــه دزده
کلـــــه پتېــــږي لـــــه مبصــــره
متـــاع پـــه بلـــخ کښـــې چـــې د قنـــدوز ده [۲۶]

د سیستان یادونه:

که له نوج سره پرې ګډ شجاع رستم شي
زر به واورې په سیستان چېغې د بورو[۲۷]

د باګرام او پېښور یادونه:

باګرام د پېښور زوړ نوم دے، کاظم خان شېدا د پښتو د شعر حسب حال کښې د باګرام او پېښور یادونه داسې کوي چې:

د بـــاګرام خطـــه دلکشـــه
د بهـــار د خـــاطر کشـــه
چـــې راځـــي کلـــي پـــه کلـــي
پـــه بګـــرام تـــر ډېـــره ملـــي
دا د روه قطعـــــه تمامــــــه
کلــــه رســـي تـــر بګرامــــه
پـــه دیـــار د تمـــام روه کښـــې
پـه دا قـــام پـــه دا ګـــروه کښـــې
یـــو پـــه ســـرا ے زبـــان آور دے
دویـــم ځـــاے ئـــې پېښـــور دے[۲۸]

د کوهستان یادونه:

شـــېدا واســـتوه دیـــوان لـــه هنـــده روه تـــه
چې لبریـز ئـې پـه صـدا شـي کوهسـتان هـم[۲۹]

د سپین غر یادونه:

نن په دا موسم کښې تور غرونه سپین غر هم
چـــې همـــه دي د بهـــار طرفـــه ګلـــزاره[۳۰]

د سرا ے یادونه:

کاظم خان شېدا په خپله شاعري کښې د خپل تاتوبي سرا ے ذکر زیارت کړے دے او ورسره ئې سرا ے زیات ستائیلے دے او په ځانګړې توګه د سرا ے د شاعرۍ او بیا خاص کر د ستر خوشال خان ختک شاعري خو ښۀ په جرات سره ستایي، لکه په لاندینو شعرونو کښې:

شېدا واستو رنګین اشعار له هنده
ستا له را ے سره اشنا د سرا ے یاران دي[۳۱]

د د پښتو د شعر حسب حال کښې کاظم خان شېدا نه یوازي خپل تاتوبے سرا ے یاد کړے دے بلکې د ستر خوشال خان و شاعرۍ ته ئې په ډېره لوړه سترګه کتلي او د خان په نامه ئې د دۀ شاعري ستائیلې او خوشال خان ئې د درستي روه پښتونخوا نوموتے شاعر ګڼلے دے، له پورتني شعر څخه ئې څو بېتونه رااخلم:

چې قلم په لاس د خان شه
مرتب ئې لوے دیوان شه
تصانیف ئې فراوان شول
مستند د درست افغان شول
هر شاعر چې د افغان دے
ریزه چین د خان د خوان دے
خان ممتاز د تمام روه دے
بل استاد د دې ګروه دے
سرا ے مطلع د دې آفتاب دے
په عالم ئې هر ځا ے تاب دے
دا قذعه ده ګل افشانه
رنګینه تر بدخشانه

د وطـــــن مېنـــــه اے جانـــــه
راپېــــدا ده لـــــه ایمانـــــه
تـــر همـــه دي ســـرا ے ودان وي
هـــم دي جـــوړ دا خانـــدان وي [۳۲]

کاظم خان شېدا په خپله شاعري کښې د وطن مرغان لکه زرکښې، سیسی، زاڼې، طاوس، تنځري، تارو، د غرونو ونې لکه پلوسه، د غرونو واوري او لـه دې پرته د وطن غوښې هم یادوي او د هنر تر دال، چپاتي او پاپړو ئې غوره ګڼې، هغه شعرونه او څلوریزې به دلته راوړم چې دغه څیزونه په کښې یاد شوي دي:

چـې د روه پـه سـیمه ورشـې ورتـه ګـوره
تـوري څـوکې د کهسـارو واوري سـپینې [۳۳]

ګلونــــه وکـــړه د روه پلوســــې
کـــه دا پیـــام مـــې نســـیم یوســـې
خوشـــبو پـــه تـــا ده د وطـــن ســـیمه
پـــه دا د عـــالم چـــې تـــازه اوســـې [۳۴]

ځـار شـه تـرې هـومره طاوسـان زاڼـې
لکـــه د ونـــو بـــې شـــماره پـــاڼې
د روه سیســـــی دي طرفـــه دلبـــري
نشـته پـه هنـد کښې دا هسـې سـکاڼې [۳۵]

نشـــته پـــه هنـــد کښـــې د غرونـــو دړې
نـــه څربـــي غوښـــې پـــه وازدو غـــوړې
خـــس و خاشـــاک دا چپـــاتي دي
ســـلو مـــې پـــاپړ ســـلو مـــې بـــړې [۳۶]

کـه ورتـه ځيـر شـې پـه شـان د ځـري
نظــر انــداز کــړې د ســپر پنځــري
زرکـــې ســبزاني خـــوش خرامـــاني
همـــه ګلفـــام دي د روه تنځـــري [۳۷]

چـــې د هنـــد ســبزو خـــوړلے پـان وي
لعـــل و يـــاقوت ئـــې دواړه لبـــان وي
زرکښـــې چـــې ګرځـــي د روه پـــه غرونـــو
ښائســته روغـــي پـــه دغـــه شـــان وي [۳۸]

هـــر يـــو تـــارو ئـــې زيبـــا صـــورت د ے
صـــحرا د روه چـــې عـــام نـــدرت د ے
ګـــوري و ځـــان تـــه پـــه تکـــرار وايـــي
پاکـــه ســـبحانه د تـــا قـــدرت د ے [۳۹]

دا وو د کـاظم خـان شـېدا پـه شـاعري کښـې د روه او د روه د سـيمو او د روه د غرونو، رغونو، واورو او مرغانو ذکر چې په شاعري کښې ئې کړے وو چې پورتـه مې وړاندې کړل او زۀ خپله ليکنه د کاظم خان شېدا په يوه ځلوريزه راغونډوم.

اشـــعار کـــه لـــولې پـــه تمـــام روه کښـــې
کـم بـه پـرې پوهــه شـي پـه دا ګـروه کښـې
هـــره مصـــره شـــي خـــط د کبکـــانو
دانـــائي نشـــته پـــه دشـــت و کـــوه کښـــې [۴۰]

# حوالې


۱. ظفر، سید بهادر شاه، ظفر اللغات، **۵۲۵**، مخ، اداره سرحد پېښور.
۲. حبیبي، عبدالحی، شل مقالې لسمه برخه، **۲۴** مخ، ټولوونکې روهیال، چاپ رشاد خپرندویه ټولنه کندهار، ۲۰۰۷م کال.
۳. خټک، راج ولي شاه، روهالوجي، ۱۱-۱۲ مخونه، چاپ پښتو اکېډمی پېښور، ۲۰۱۲م کال.
۴. دیوان اشرف خان هجري، **۱۳۲** مخ، تحقیق او ترتیب و سمونه همېش خلیل، چاپ پښتو اکېډمی پېښور، ۲۰۰۱م کال.
**۵**. همدغه کتاب، **۲۵۸** مخ.
۶. همدغه کتاب **۳۳** مخ.
۷. همدغه کتاب، **۳۵** مخ.
۸. همدغه کتاب **۱۳۵** مخ.
۹. د خوشال خان خټک کلیات، ۸۳۸ مخ، چاپ دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۸م کال.
۱۰. د کاظم خان شېدا دیوان، ۸۲ مخ.
۱۱. حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادب لنډ تاریخ، **۵۷** مخ، چاپ د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست، ۱۳۴۲هـ ش.
۱۲. همدغه کتاب، **۵۲-۵۷** مخونه.
۱۳. د کاظم خان شېدا دیوان، ۱۴۸ مخ.
۱۴. همدغه کتاب، **۵۲** مخ.
۱۵. همدغه کتاب، ۱۴۲ مخ.
۱۶. همدغه کتاب، ۳۲۰، ۳۲۱، ۳۲۲ مخونه.
۱۷. همدغه کتاب **۳۷۸** مخ.
۱۸. همدغه کتاب، **۳۳۵-۳۳۹** مخونه.
۱۹. همدغه کتاب، ۷۷ مخ.

۲۰. همدغه کتاب، **۱۵۹** مخ.
۲۱. همدغه کتاب، **۲۴۲** مخ.
۲۲. همدغه کتاب، **۱۲۲** مخ.
۲۳. همدغه کتاب، **۸۵** مخ.
۲۴. همدغه کتاب، **۹۱** مخ.
۲۵. همدغه کتاب، **۴۰۷** مخ.
۲۶. همدغه کتاب، **۳۵۵** مخ.
۲۷. همدغه کتاب، **۴۲۹** مخ.
۲۸. همدغه کتاب، **۸۷، ۸۸، ۹۱** مخونه.
۲۹. همدغه کتاب، **۱۴۲** مخ.
۳۰. همدغه کتاب، **۲۳۶**.
۳۱. همدغه کتاب، **۲۳۱** مخ.
۳۲. همدغه کتاب، **۸۳، ۸۴، ۸۵، ۸۶** مخونه.
۳۳. همدغه کتاب، **۴۳۶** مخ.
۳۴. همدغه کتاب، **۴۰۵** مخ.
۳۵. همدغه کتاب، **۴۱۲** مخ.
۳۶. همدغه کتاب، **۴۰۳** مخ.
۳۷. همدغه کتاب، **۳۷۸** مخ.
۳۸. همدغه کتاب، **۳۹۰** مخ.
۳۹. همدغه کتاب، **۳۹۳** مخ.
۴۰. همدغه کتاب، **۴۰۸** مخ.